TELL US

ناسې ووایاست، مونږ غوږ یو

خپل‌فیډبک یا نظر او شکایات څرنګه په Tusla کې درج کولی شو

ـ ماشومانو او ځوانانو لپاره لارښود

TUSLA

An Ghníomhaireacht um Leanaí agus an Teaghlach
Child and Family Agency

د Tusla په اړه

مونږ Tusla یو - د ماشومانو او کورنیو اداره. زمونږ دنده دا ده چې ماشومان او ځوانان له زیان څخه خوندي وساتو او د دوی د کورنیو په همکارۍ د هغوي ښه پاملرنه وکړو.

مونږ غواړو یو ښه کار وکړو او غواړو هغه شیان ترسره کړو چې تاسو او ستاسو له کورنۍ سره مرسته کوي. تاسو کولی شئ له مونږ سره مرسته وکړئ ترڅو خپله دنده په ښه توګه ترسره کړو.

زمونږ په اړه څه فکر لرئ او مونږ څنګه لا ښه کیدلای شو TELL US

مونږ به لاندې کارونه ترسره کړو:

- **تاسو او ستاسو کورنیو سره مرسته کولای شو چې خپل نظرونه شریک کړئ:**
- **ستاسو نظریاتو ته غوږ نیسو:**
- **ستاسو له نظرونو سره سم عمل کوو.**
- **تاسې ته به ووایو چې ستاسو نظر او شکایاتو ته مو څنګه ځواب ورکړ.**

که مونږ ښه کار کوو، مونږ غواړو چې تاسو مونږ ته ووایاست ځکه چې مونږ اکثره وخت نه پوهیږو. دې ته مثبت نظر ویل کیږي.

کله چې مونږ مثبت نظر ترلاسه کړو، مونږ کولای شو هڅه وکړو کارونه هغه شان تنظیم کړو څنګه چې تاسو غواړئ یا تاسو ته ګټور تمامیږي. مونږ کولای شو له نورو کارمندانو وغواړو چې کارونه په دغه ډول تنظیم کړي او دا به له نورو ماشومانو سره هم مرسته وکړي.

که تاسو فکر کوئ چې مونږ ښه کار نه کوو، تاسو کولای شئ مونږ ته ووایاست. دې ته شکایت ویل کیږي. شکایتونه مونږ سره مرسته کوي چې پوه شو چې مونږ کوم کارونه په ښه توګه ترسره کوو او څنګه یې کولای شو.

نو څه به وشي کله چې تاسو

مونږ ته ووایاست؟

که تاسو مونږ ته نظر راکړئ، مونږ به له تاسو سره اړیکه ونیسو ترڅو له تاسو څخه مننه وکړو.

که تاسو شکایت وکړئ، مونږ به هڅه وکړو چې ستاسو شکایت ژر تر ژره حل کړو او په یوه اونۍ کې به له تاسو سره اړیکه ونیسو.

مونږ ممکن له تاسو سره خبرې وکړو او تاسو سره ووینو، ترڅو وکولای شو ستاسو شکایت په سمه توګه درک کړو.

مونږ به ستاسو شکایت دقیق وڅیړو او و به ګورو چې څه کولای شو. دا ممکن تر 30 ورځو وخت ونیسي. که له دغه ټاکلې مودې څخه زیات وخت ونیسي نو مونږ به په هرو 20 ورځو کې تاسو په جریان کې وساتو. مونږ به تاسې ته ووایو چې ستاسو د شکایت په اړه مونږ څه ترسره کړي دی.

که د خپل شکایت په اړه زمونږ له کړنو څخه ناخوښه یاست، کولای شئ د بیا کتنې غوښتنه وکړئ. دا په دې معنا چې یو درېیم ګړی چې په Tusla کې کار نه کوي له دي وروسته ستاسو شکایت پر مخ وړي.

که تاسې له دي وروسته هم ناخوښ یاست، تاسو کولای شئ له محتسب یا ماشومانو د دفتر له څارونکي سره اړیکه ونیسئ او له هغوی څخه غوښتنه وکړئ چې ستاسو شکایت پر مخ یوسي.

د ماشومانو د دفتر څارونکی،
www.oco.ie
email: oco@oco.ie
وړیا شمیره؛ 040 202 1800

د دفتر څارونکی،
www.ombudsman.gov.ie
برېښنالیک:
ombudsman@ombudsman.gov.ie

مهرباني وکړئ مونږ ته ووایاست

که چیرې مونږ ښه کار کوو:

که مونږ خپل کارونه نور هم ښه کولای شو،

که تاسو فکر کوئ چې مونږ ښه کار نه کوو.

مونږ ته څنګه ویلای شئ؟

1. **تاسو کولای شئ له هغه چا سره خبرې وکړئ چې تاسو سره کار کوي یا د هغوی د مدیر یا د Tusla کوم کس سره چې له تاسو سره کار کوي د خبرو کولو غوښتنه وکړئ.**
2. **که تاسو غواړئ، یو څوک چې تاسو باور پرې لرئ کولای شي مونږ ته ستاسو په استازیتوب ووایي، یا تاسو کولای شئ له دغه کس څخه مرسته وغواړئ.**
3. **تاسو کولی شئ ضمیمه شوې فورمه ډکه کړئ او tellus@Tusla.ie ته یې واستوئ یا floor 4, brunel 8 building, heuston south quarter, dublin یا لاندې ښودل شوې محلي پتې ته یې واستوئ.**
4. **تاسو آنلاین فورمه ډکولای شئ کومه چې په ویب سایټ کې موندلای شئ www.tusla.ie**
5. **تاسو مونږ ته په ie.tellus@tusla ایمیل استولای شئ**

سیمه ییزه پته:

د نظر غوښتنې فورمه

په مهربانۍ **سره مونږ ته ووياست** چې د خدماتو نوم څه شی دي؟

د خدمت پته کومه ده؟

څه پيښه وشوه؟

کله او چيرته دا پيښه واقع شوه؟

څوک ښکېل وو؟

ولی غواړئ چې په اړه يې مونږ ته ووایاست؟

د نظر غوښتنې فورمه (په بل اړخ کې دوام لري)

څه غواړئ چې مونږ يې په اړه څه وکړو؟

ستاسو نوم:

ستاسو پته:

يا برېښنالیک پته تر څو مونږ بیرته له تاسو سره اړیکه ټینګه کړای شو:

تاسو کولای شئ خپل د تلیفون شمیره هم پریږدئ که غواړئ چې د تلیفون له لارې اړیکه درسره ونیسو:

دا معلومات محرم دي مګر کیدای شي په هغه صورت کې شریک شي که چیرې مونږ باور لرو چې تاسو یا کوم بل ماشوم یا خوان په خطر کې دی.